مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۲۴/۱۰/۰۳

د افغان میرمنو په اړه د اروپایي ټولنې عالي محکمې مهمه پرېکړه

اروپا کي یوازي یوه افغان مېرمن اوسیدل په خپله د سیاسي پناه اخیستلو لپاره کافي دلایل کېدلي شي. جنسیت او اصلیت د کډوالۍ د وضعیت لپاره کافي ثبوت دي:

د اروپایي ټولنې عالي محکمه

افغان ښځي په بنسټیزه توګه ځوروړل کیږي.

د اروپایي ټولنې محکمې (EuGH) نن د جمعې په ورځ د افغان میرمنو لپاره یو مهم حکم صادر کړ، چې له مخې په افغانستان کې د طالبانو رژیم له خوا له افغان میرمنو سره چلند د تاوتریخوالي یا اذیتولو په توګه شمیرل کیږي.

د اړونده پناه غوښتنې عریضو د څېړلو لپاره، دا کافي ده چې د ښځې جنسیت او تابعیت وڅېړل شي. دا پریکړه په اتریش کې د دوو قضیو له امله رامینځته شوې ده.

د اروپایي ټولنې د عدلیې محکمې مشر قاضي ویلي؛ په افغانستان کې د ښځو وضعیت د بشري ځوروني او تعقیبلول په ډې مانا دي، چې د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو د ارزونې پر مهال یوازې د افغان ښځې اصلیت یا منشاء او جنسیت مالومول په پام کې نیولو سره د سیاسي پناهنده ګي اخیستلو لپاره کفایت کوي.
د اروپایي ټولنې عالي محکمې(EuGH) په اند او وینا: په افغانستان کې د سختدریځو طالبانو په واکمنۍ کې د ښځو سره چلند د یوه انسان د ازار، اذیت او ځوروني په درجه بندي کې راځي، کوم چې کولې شي، د هرې افغان ښځې غوښتنلیک د کډوالي په توګه باید ومنل شي .

کله چې په انفرادي ډول د یوې افغان میرمنې د پناه غوښتنې عریضه یا غوښتنه لیکونه څېړل کیږي، د اروپایي ټولنې هیوادونو لپاره دا کافي ده، چې یوازې د هغې ښځې جنسیت او تابعیت په پام کې ونیسي، لکه څنګه چې نن د جمعې په ورځ د اروپا عالي محکمې پرېکړه وکړه.

د اتریش اداري محکمې(VwGH) باید د یوې افغان میرمنې او یوې افغان نجلۍ د قضیو په اړه پریکړه وکړي واي، چې د اتریش مهاجرت او پناه غوښتنې فدرالي دفتر (BFA) لخوا ورته فرعي خوندیتوب ورکړل شوی و، خو سیاسي پناه نه وه ورکړل شوې.
په دواړو قضیو کې دا پریکړه استیناف شوې وه او قضیه د اتریش په اداري محکمه کې پای ته ورسیده، د افغان میرمنو قضیه د اروپایي ټولنې عالي محکمې ته ولاړه.

د اروپایي ټولنې عالي محکمې پرېکړه د اتریش هیواد پوښتنو ته د ځواب وویلو په اړه شوې ده.
هلته په اتریش کې د اتریش اداري محکمه مجبوره وه، څو د دوو افغان میرمنو د پناه غوښتنې غوښتنلیکونو په قضیو کې پرېکړه وکړي. دغو دواړو افغان میرمنو د اتریش د چارواکو لخوا د دوی د کډوالي قضیو ردولو په وړاندې په د اتریشي اداري محکمه کې اعتراض کړي وو.

د افغان مېرمنو په استدلال او ادعا سره سم، چې په افغانستان کې یوازې د ښځو وضعیت د کډوالو ټولمنلي معیارونه پوره کوي یا د کډوالي منلو د ورکړې وضعیت توجیه کوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اتريش اداري محکمه غوښتل وپوهيږي، او دا پوښتنې يې د اروپايي ټولنې عالي محکمې (EuGH) ته له دې امله وړاندې کړي وي: همدارنګه اتريشي اداري محکمې غوښتل د اروپايي ټولنې محکمې نظر او پرېکړه په دې اړه هم واخلي او پوه شي; چې له دې ډول قضيو سره په راتلونکي کې په څه ډول چلند وکړي او ايا د اروپايي ټولنې نور غړي هيوادونه هم کولې شي، چې يوې افغان ميرمنې ته يوازې د هغې د جنسيت او اصليت پر بنسټ سياسي کډوالي يا پناهنده ګي ورکړي.

د اروپايي ټولنې عالي محکمې په ځواب کې ليکلي دي، چې اجباري ودونه او د جنسيت ځانګړنې، د کورنۍ عدم حمايت يا د تاوتريخوالي پر وړاندې د خوندیتوب نشتوالي له امله دا وضعيت بايد په خپله د جنسيتي تعقيب په توګه طبقه بندي کړل شي.

اجباري ودونه د غلامۍ د يوې بڼې سره مساوي پرتله کيدلې شي. نور اقدامات لکه په بشپړ ډول د ځان د پوښلو مکلفيت او همدارنګه د تعليم او کار محروميت او طبي درملنې ته د لاسرسي محدوديتول او له سياسي ژوند څخه ايستل هم د انسان ځوروني او اذيت کول دي.

افغان ميرمنې له بشري کرامت او سره تړلي له ټولو بنسټيزو بشري حقونو څخه بې برخې کړل شوي دي.
اروپايي ټولنې محمکه ليکي او امر ورکوي:

کله چې د يوې افغاني ميرمنې د پناه غوښتنې عريضه څيړل کيږي، دا بايد ونه پلټل شي يا ثابته نه شي، چې ايا دغه افغان مېرمن واقعاً او په ځانګړې توګه د ځوروني له ګوابښ سره مخه ده او که چيرې افغان ميرمن خپل اصلي هيواد ته وراستانه کړل شي، لکه څنګه چې د اروپايي ټولنې محکمې نور تشريحات ورکړي دي.

دا کافي ده، چې يوازې د افغان ميرمنو تابعيت او جنسيت په پام کې ونيول شي يا ونيسئ.

اوس د اتريش اداري محکمه ان په ځانګړو قضيو کې بايد داسې پريکړه وکړي، اتريشي محکمه مجبوره، مکلفه او موظف ده، چې د افغان ښځو په اړه د اروپايي ټولنې حقوقي پرېکړې په پام کې ونيسئ. د اتريش محکمې پرېکړې د اروپايي ټولنې عالي محکمې له پرېکړو او نظر پورې تړلي دي.

نه يوازې د اتريش هيواد، بلکې د اروپايي ټولنې ټول 27 غړي هيوادونه بايد د افغان مېرمنو د پناه غوښتليکونو په اړه د اروپايي ټولنې عالي محکمې پرېکړه عملي کړي.

پای

#LetGirlsLearn
#FreeAfganWomenAndGirl

د ليکوال: آرشيف

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ